
شعري ټولګه
غزل
له نویو زیاتونو سره
دویم چاپ
غنم رنګ کوچی

عادت مې لاد هجر شوګيرې نه دي شپونکيه
پخوا چرته راغلي داسې شپې نه دي شپونکيه
ته سرې سترګې راواړوه چې ټول نشه نشه شم
په تن باندې مې بلې سرې لمبې نه دي شپونکيه
دا لويې لويې لارې به زمونږ د وطن نه وي
چې جوړې په قدم قدم مورچې نه دي شپونکيه
کړې شپه مې په تا پسې په چغو دي ژړلي
دا سترګې خو مې هسې داسې سرې نه دي شپونکيه
يو وخت به د محل خاوندان هم راشي خپمو ته
خو صبر لا راغلې زلزلې نه دي شپونکيه
نه کور نه دي حجره، نه دي جومات، نه هديره شته
دا ټولې کمبختۍ د معجزې نه دي شپونکيه
له ما نه که پوښتې د ننۍ خوراک هم رانه هېر دے
په ياد مې هغه تيرې زمانې نه دي شپونکيه
خوشحال بابا ويل چې "د دستار سرې هزار دي"
خو اوس پاتې وطن کښې څو شملې نه دي شپونکيه
ته هسې په شپېلۍ کښې ببولالې ورته وايې
دا خلک په پيسې دي په ټپې نه دي شپونکيه
ياران د کوچې واړه د محل سندرې وايي
په قدر لا خبر څوک د خپمې نه دي شپونکيه

حميد بابا ادبي ټولنه، ماشوګګر ـ پېښور

بسم الله الرحمن الرحيم

د دیا چاپ ټول حقوق له شاعر سره خوندي دي.

د کتاب پېژندګلو

د کتاب نوم: تغزل

ویناوال: غنم رنګ کوچے

خپرندوی: حمید ادبي ټولنه، پېښور

چاپ وار: دویم

اهتمام: شهاب بنوڅے

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

لومړی چاپ: مارچ ۲۰۱۲

دویم چاپ: نومبر ۲۰۱۲

ډیزاین: ذبیح شفق 0321-9195220

کمپیوټر څی:

د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه

www.danishpress.com

00937057480007
00937857480007

د شاعر لنډه پېژندنه

نوم: غنم رنګ
قلمي نوم: کوچے
ولایت لوګر
کلے: کځ
د اوسېدو خاے بډه بهره، پېښور
مستقل پته: لوګر

چاپ او ناچاپه کتابونه:

۱. انتخاب: د عبدالحمید بابا شاعري
۲. تغزل: همدا کتاب
۳. منتخب حمزه بابا: شاعري
۴. غونچکو نه غونچکونه: نظمونه، خپله شاعري
۵. د خوشال بابا زرین اقوال: نثر
۶. منتخب رحمان بابا: شاعري
۷. د حمید بابا شاعری کښې تلمیحات او متلونه نثر
۸ د پښتونخوا منتخب غزل: شاعري
۹ تنقید لپاره د اصلاح د حمید ادبي ټولنې رودادونه نثر
۱۰. د جدید غزل دپاره څو لارښوونې نثر
۱۱. تنقیدي لیکنې نثر

چې کشور د افغانانو معطر کا
د هر بیت مصرعه مې زلفې د خوبان کړې
"رحمان بابا"

هم نغمې کاندي هم رقص کا هم خاندي
د رحمان په شعر تُرکي د باګرام
"رحمان بابا"

غـــزل

عـادت مـې لاد هجـر شـوکيرې نـه دي شـپونکيه
پخـوا چرتـه راغلـي داسـې شـپې نـه دي شـپونکيه

تـه سـرې سـترګې راواړوه چـې ټول نشـه نشـه شـم
په تن باندې مې بلې سرې لمبې نه دي شـپونکيه

دا لـويې لـويې لارې بـه زمـونږ د وطـن نـه وي
چې جوړې په قدم قدم مورچې نه دي شـپونکيه

کـرې شـپه مـې پـه تـا پسـې پـه چغـو دي ژړلـي
دا سترګې خو مې هسې داسې سرې نه دي شـپونکيه

يـو وخـت بـه د محـل خاونـدان هـم راشـي خـپمـو تـه
خـو صـبر! لا راغلـې زلزلـې نـه دي شـپونکيه

نه کور نه دي حجره، نه دي جومات، نه هديره شته
دا ټولې کمبختۍ دي معجزې نه دي شپونکيه

له ما نه که پوښتې د ننۍ خوراک هم رانه هېر دے
په ياد مې هغه تيرې زمانې نه دي شپونکيه

خوشحال بابا ويل چې "د دستار سړي هزار دي"
خو اوس پاتې وطن کښې څو شملې نه دي شپونکيه

ته هسې په شپېلۍ کښې ببولالې ورته وايې
دا خلک په پيسې دي په ټپې نه دي شپونکيه

يارانو د کوچې وارې د محل سندرې وايي
په قدر لاخبر څوک د خپمې نه دي شپونکيه

په ډېرو هلو ځلو به خپل ځان پوري رسېږي
د کلي خوار سړے کله د خان پوري رسېږي

دا ځومره ساده ګمان دي تا ډيوه يا ځراغ بولي
دا ستا د مخ رڼا خو بل جهان پوري رسېږي
ربنتيا ده دا خبره او که هسې آوازه ده
زه اورم رقيبان چې ستا مکان پوري رسېږي
د خپلې پاکې مينې له انجامه خبر نه يم
آغاز ته يې چې پام کړم تر هجران پوري رسېږي
زما اوښکې خو هېڅ د چا په خير باندې رانغلې
زما اوښکې يواځې خپل ګرېوان پوري رسېږي

کوچيه! په بنکاره خو سپين لباس کوي دا خلک
عمل ته يې چې ګوري تر حيوان پوري رسېږي

د وطن ښکاري وايه کوم ځاے دي د هره ده وروره
د خولې خبره دې له شاتونه خوږه ده وروره

وايي چې ټول مسافر بهرته خپل مسکن ته درومي
وطن جوړ ږي دلته داسې اوازه ده وروره
پښتني دلته نيلامږي ته خبر يې که نه
زمور باچا ته دا خبره ښه ښکاره ده وروره
هر څوک چې راشي بې سلامه بې دعا تيرږي
زما د زړه کور لکه ورانه هديره ده وروره
لاخو د دوی زړونو کښې بل دي د نفرت اورونه
لاخو زمور ستر کو کښې تېره زمانه ده وروره

که دې يو ځل وليدو دا اقرار به خپله وکړې
چې دا کوچے خو د کوچيانو شهزاده ده وروره

غـــزل

له ملامتـه يې په سپين رخسار خولې راوستې
ما چې په خُله ورته د زړه يو څو ګيلې راوستې

پرون چې ما نه زړه غوښتلې نو انکار دې وکړو
نن چې دې خوښه وه نو خپل زړګي په ښپې راوستې
ته د محل خاوند يې ستا راتګ او دغه ځاے ته!
جانانه ته خو خپل مطلب تر دې خپمې راوستې
زما له کانړو سخت يارانو بيا په ما يې ژړل
خاونده تا دې سختو کانړو نه چينې راوستې
ته خو مغرور وې تا دا لاندې ځمکه کله ليده
قسمت زما د کلي کور تر دروازې راوستې

کوچيه! ما خو لا قيصه د بهلتون کړې نه ده
کوچيه! تا د ترمو اوښکو قافلې راوستې

هر وخت پري واغوزي تندرونه دي که کاني
خاوند! دې قام دغه سرونه دي که کاني؟

رقيب لکه بنامار درپسې کرخي لالهانده
داستا د هار لړونو کښې لعلونه دي که کاني
دغه دنک محل په اړه ځه وايې ملنګرو؟
چې لاندې تري زمونږ خوارو هډونه دي که کاني؟
ثنا تل د مولا وايي په خپله پاکه ژبه
دې جنت نظير وطن سيندونه دي که کاني
ساتلې يې ستا حسن دے له وږو نظرونو
سپوږمۍ دا په ځېره دې توږ داغونه دي که کاني

کوچيه! هېڅ خاطر د سړي نه کوي دا ښکلي
حيران يم په سينو کښې يې دا زړونه دي که کاني

دا ستا له ډېره وهمه احترام له مانه هېر شي
په مخه چې ته راشې نو سلام له مانه هېر شي

په جان او په قربان دې چې زه بولم خفه نشې
تاثیر دې دومره دے چې دا ستا نام له مانه هېر شي
په نرمو نرمو شونډو تر سحره قیصې وایې
آغاز له تانه هېر شي، اختتام له مانه هېر شي
زه تل وایم چې نن به درنه زه هم مرور ېږم
چې ته راته موسکی شې انتقام له مانه هېر شي
چې شپه نیمې ته ورسي بیدار شم کټ کښې کېنم
په خیال مې ته راولوېږې آرام له مانه هېر شي

کوچیه! پوره کال مې د ورتلو کړے تکل خو
سحر په کار کښې بوخت شم او ما ښام له مانه هېر شي

په تکه توره شپه کښې لوی خدلر ته مخامخ شوو
دا ستا په لتمون وتې وو چې غر ته مخامخ شوو

ببلتون زما او ستا ترمنځه جوړې فاصلې کړې
جانانه بنکاري داسې چې محشر ته مخامخ شوو

له تا څخه زمونږ تمه د ګل د ګوزار نه وه
قسمت ګوره چې ستا د لاس خنجر ته مخامخ شوو

کړې شپه انتظار ستا د راتلو وکړو رانشې
ناهیلي ببرته پاځهږو سحر ته مخامخ شوو

کوچیه! مونږه وکړو خپلې وسې پورې صبر
خو څه وکړو چې بیا هم کله شر ته مخامخ شوو

پـے مخـي زړه داسـي ناڅاپـه نـاخبره واخلـي
لکه زړور بـاز چې په پنجو کښې کونتره واخلي

داسې څوک شته دے چې فریاد زمونږ ورورسوي؟
داسې څوک شته دے چې دا غم زمونږ له سره واخلي

خوب مې لیده چې زه په توقو کښې تري خُله وغواړم
دا لـه غوسـي سرهٔ شـي پـه مـا پسـي ډبـره واخلـي

کلـه چـې یـار تاتـه د تلـو وایـي تـه ودرد ېږې؟
زمـا د تـن غوښـي خـو اور پـه دې خبـره واخلـي

کـوچے بـه څـه ورسـره وکـړي پـه کمـزوري وجـود
یـار زورور دے څـه بـه زور لـه زورورہ واخلـي

بغبر له تا بې نومه ده وړه ده مرغلره
چې ستا په غاړه زانګې نو بیا بنه ده مرغلره

افسوس چې یې طاقت نه لري ژبه د اظهار اوس
هغه چې یې د خُلې هره قیصه ده مرغلره
د ځوان خاوند په مرګ او په غُربت یې صبر وکړو
ته ګوره څومره کلکه پښتنه ده مرغلره
یاقوت که زمرود دي یا مشکنې باهوګان دي
له رنګ په رنګ ګانو نه بنا بسته ده مرغلره
دې کس پخپل سر اینبې چې خولې سلیماني ده
دې کس ته تروړل هر وختې سوکه ده مرغلره

کوچیه! ته خبر یې چې د خدا ے له ویرې اوښکه
راوځاځي له سترګو نو هغه ده مرغلره

چې ځلېدلے ہې د برخې په آسمان ستورے دے
هغه سړے په مونږه ټولو کښې روښان ستورے دے

دا خو هم ته وې چې د شپې زما په لوري راتلې
ما خو ویل که دا په ځمکه راروان ستورے دے
دا ستا د سپین مخ رڼایي لکه سپوږمۍ وي شپه کښې
دا ستا د غوندې زنې خال ماته عیان ستورے دے
تیارې د جهل یې هېڅ وخت کښې تټولے نشي
روښان زمونږ د عقیدې او د ایمان ستورے دے
بنایې یو وخت به مې سیلۍ دده تر کوره وروړي
زما وجود که هر څو خاورې او جانان ستورے دے

په هر پلو یې پلویان دي بې حساب کوچیه
زما جانان هر خاے اتل دے د جهان ستورے دے

کونتره ګورم چې پیشو سره یې شپه شوې ده
نظام بدلېږي ماته دومره اندازه شوې ده

هغه دوه ورونه چې د بل په خُله چاړه غوښه وو
نن مې دا واورېدل د روغې یې جرګه شوې ده
زړګیه بې غرضه دلته هېڅوک هم نه راځي
هغه چې نه راځي نو اوس یې ګوزاره شوې ده
زه نابلده مسافر دم ګړې راغلم دلته
او تاسو ما پوښتئ چې دلته څه لانجه شوې ده
چې یې زما د ژوند قضیه کوله نه وم خبر
اوس چې انکار کوم نو وایي فیصله شوې ده

کوچیه! دا خو یې په سهوه لاس رااوږد کړلو
کنه د ژوند سره پخوا مې مخه نه شوې ده

غـــزل

پـه مـا مـنـه وه خـو مـا نـه بـاهـه پـيـروزه
وه بدقـسـمـته زوړ سـړي تـه ودهـه پـيـروزه

خلک خبر وو چې واکمن به يې په زور وتيښتي
هر چا لـه دې سبب په کور نه ګهښوده پيروزه
په هر کاله کښې يې د ښو خويونو ذکر ګډه
د کلي پېغلو کښې تر ټولو وه درنده پيروزه
ددې ماشوم عکس د ټولې نړۍ پام ګړو خاته
خبرن، پښې ابله په ټټر باندې يې ده پيروزه
ټوټې ټوټې وجود يې هېڅا پېژندلے نشو
خپلې مېرمنې يې په لاس وپېژنده پيروزه

مجبور کوچے تربنه په لور د هندوستان تلے و
په جدايي يې شپه او ورځې ژړېده پيروزه

ګرځېږي په خوشبو پسې ګلان يې د هر خوښېږي
ماشوم يې نشته کور کښې ماشومان يې د هر خوښېږي

د خپلې خُلې فقط دغه د "نا" توری پرې ګران دے
زما د خُلې فقط دغه "قربان" يې د هر خوښېږي
حالا تو يې مفهوم نه خبر نه کړو کنه نور خو
څه دومره ساده هم نه دے ايمان يې د هر خوښېږي
که تاسو يو څه بل څه خوښوئ نو ستاسو خوښه
زما زړه که ربنتيا پوښتئ جانان يې د هر خوښېږي
مونږ بيا هم له هغه چا څخه تمه د وفا کړو
جهان چې يې هر کړے او خپل ځان يې د هر خوښېږي

ربباره ته بنه وايې ده په ما کوچې مَهنه
ما دا هم اوربدلي چې کوچيان يې د هر خوښېږي

هر چا نه راته ګران دے زما ځان دے شهزاده
زه ځمکه باندې اوسم او اسمان دے شهزاده

قاصده درنه جار شم ستا په خُله ګوړې شکرې
څه وایې د لیدو مې په ارمان دے شهزاده
هغه هم راته ځاے د زړه په کور کښې دے راکړے
او ماته هم له ټولې دنیا ګران دے شهزاده
نور خلک یې تر قده پورې ننسي رسېدلے
د ملک یا د قام نه دے د جهان دے شهزاده
زړګیه په ما پښې د خپل ځادره مه وباسه
دا زه پردے مزدوریمه او خان دے شهزاده

کوچیه! پرون زه ورپسې تلم دا مې سالار و
ته وګوره نن ما پسې روان دے شهزاده

لـه کـاره دې وېسـتلي يـو وزګـار درپسـې ګرځـو
نشـه يـو سـتا پـه مينـه کښـې خُمـار درپسـې ګرځـو

پـه تکـه تـوره شـپه چـې پـرې تـا کـړي وو مزلونـه
مـونږ هـم دا سـتا پـه هيلـه پـه دې لار درپسـې ګرځـو
جانانه ولې وايـې چې خپل ځان دې کړه پـه واک کـې
جانانـه پـه ځـان نـه لـرو اختيـار درپسـې ګرځـو
مـونږ وينـو چـې سـتا مينـه ازلـي وه لـه تپوکـه!
خـو مـونږه سـاده ګـان وهـو سـېتار درپسـې ګرځـو
وړو وړو خـدايانو زنـدګي رانـه اخيسـتې
مرګيـه! چېرتـه لاړې يـو تيـار درپسـې ګرځـو

کوچيـه! چـا ويـل چـې تـا لـه کلـي کـډه کـړې
دا ځکـه اوس کـوڅې ګـورو د ښـار درپسـې ګرځـو

نور چم کښې قراري ده خو په دار شوه يوه پېغله
په لاس د پاک لمنو بيا سنګسار شوه يوه پېغله

هغه ورځ مې له سترګو نه بې حده اوښکې لاړې
هغه ورځ چې سفر کښې په ګفتار شوه يوه پېغله

په درست ښار کښې يې يوځاے د سر سيورے پيدا نه کړو
پښېمانه په دې خپل ښاېسته رخسار شوه يوه پېغله

په دې سبب چې کړے يې اظهار د محبت و
په دې وجه زړۀ په کور د پلار شوه يوه پېغله

دا زه د غرو کوچے او چېرته هغه ښکلوالے؟
ته ګوره چې زما په انتظار شوه يوه پېغله

لاړې بدل شوې درنه هېر شو د وروری عکسونه
اوس دې په مخ کښې ماته ښکاري د بدی عکسونه

د تورو زلفو په تیارو کښې دې چې حسن ګورم
لکه په شپه وي چا اخیستي له سپوږمی عکسونه

زما په مخ چې خوښي ګوري خوشحالېږي ورته
زه له یارانو پټ ساتم د مجبوری عکسونه

هغه هلک هم تاوره شپه د مرګ لېوانو وخوړ
چې یې وېستلي وو په شپه له ښاپېری عکسونه

پېغلو ملګرو یې ویل کوچې به ګورو خرور
چا ویل چې سترګو کښې یې ښکاري د کوچی عکسونه

غـــزل

څه سختي د پردیس دا ورځې شپې دي لال پري
څي اوښکې مې له سترګو او خولې دي لال پري

زه هره شپه خوب وینم چې ستا تور زلفان وي سپین
پربـوتې مـې زړګـي تـه اند ښنې دي لال پـري

دا سترے ستړے ژوند کړمه دمه ګوتمه جام
بـس زه یـم مېخانـه ده او نشـې دي لال پـري

پـاو پـاو سترګې او دا لـه نـوره ډک بـدن نـازک
دا ګـوتې دي ورښـمو نـه پسـتې دي لال پـري

يو غوږ مې کړو لیمځے او بل برسټن نه اورم غږ
د چا خُله به کنډمه د بړې خُلې دې لال پرې

چې سترګې کړمه لوڅې جهان سور وینمه سور
رینتیا په دوست عالم بلې لمبې دې لال پرې

دا دشته دا صحرا په دې خبره ده ګواه
چې ما په هر پراو کړې سجدې دې لال پرې

له سرو سرو انتکو دې راته لرې کړه نقاب
رایادې د کابل سرې سرې مڼې دې لال پرې

په لټه د کوچې یو مونږ راغلي تر دې ځایه
ولاړې دلته کوم ډاک کنبې خیمې دې لال پرې

ژوندون یې تول خزان خزان دے پسرلے نه لرې
تنه یې شته خو ولې هاغسې تندے نه لرې

دغه مهرمن د کور انګړ کښې تنها ژوند تېروي
څښتن تعالی هر څه ورکړي دي سړے نه لرې

له دومره حسن سره بنکلے یار ضرور پکار وه
ګوتمه په ګوته یې د سرو ده خو غمے نه لرې

ته که یار غواړې د اغیار خطر په پام کښې لره
داسې ګلاب هېڅرته نشته چې ازغے نه لرې

ته ډېر ښه وایې چې یو وخت خو به شو غاړه غټې
له خُلې دې جار شمه خو دومره بخت کوچے نه لرې

د هېڅ درک يې نه و وړې ناست وو په تيارە کښې
له مور نه ګېرچاپېرە بچي ناست وو په تيارە کښې

دا وايي چې زه هېڅوک نه کوم او نه ودېږم
په دې ښکلې جلکې ښاپېري ناست وو په تيارە کښې

چې بيا به يې د چا له سينې وېستے وي خنجر دوی
ببګاه په هغه لاړه سړي ناست وو په تيارە کښې

رښا ورته د علم هېچا نه وه رسولې
رهبر يې بې پروا و زلمي ناست وو په تيارە کښې

کوچي باندې خو پوه شوم خو دا بل کس به چې څوک و؟
کول يې چې سارە اسويلي ناست وو په تيارە کښې

نه یې په ستورو کښې او نه یې په سپوږمۍ کښې اښې
څښتن دي واړه ښاپستونه ستا خولګی کښې اښې

ته له مالدارو د وفا تمه مه کوه
مینه، وفا خو خدای تعالی په غریبی کښې اښې
ستا تصویرونه مې د زړه په فریم کښې ښه ساتلی
نور تصویرونه مې جانانه الماری کښې اښې
ددې لپاره چې پخپل تربور پرې وړې وکړې
پښتون اشنا مې څو توپک پاس په برجی کښې اښې
ستا په لیدو زمونږه تنده یو په دوه سپوا شي
تا د کوثر اوبو جامونه په مړی کښې اښې

کوچیه! کورې دا قبرونه په قطار چې جوړ دي
والیې چې دې ورونو سرونه په بدی کښې اښې

غـــزل

د غريـب کـور کښـې چـې بـه کلـه بلبدلـه ډيـوه
سـيلی ظـالمې بـه هغـه سـاعت وژلـه ډيـوه

يـار يـې پښـو پسـې و لـړې بـل وطـن تـه تللے
دلتـه پـه کـور کښـې يـې لـه غمـه سـوخېدله ډيـوه
مـا چـې يـوه شـپه لـړ ناوختـه کـړ نـو دې وويـل
بنـه شـوه چـې راغلـې کنـه مـا درپسـې ورلـه ډيـوه
بدبختـه زوے يـې اوس خبر شو چـې سختـي څنګـه وي
بختـور پـلار يـې پـه تنـدي کښـې ګرځولـه ډيـوه
د نـامردی غـړ يـې چـې راغلـو جينکـو وويـل:
مـونږ خـو ورتلـو مـونږ يـې پـه قبـر بلولـه ډيـوه

يو څوک کوچے پورې خپمه کښې به يواځې ناست و
ورتـه بـه مخکښـې تـر سـحره بلبدلـه ډيـوه

حقوق يې چا خوړلي حسابونه خلک غواړي
اوس هم لارو کوځو کښې خپراتونه خلک غواړي

واکمن که په رينبتيا وي خادمان د دغو خلکو
بيا ولې په نهزو د دوی سرونه خلک غواړي
يو څل لار راغلطه کړه د خوارو احوال واخله
د سر سيورے هم نه لري کورونه خلک غواړي
کردار ته يې چې ګورې کړي تلاش د دوزخونو
دعا ته چې لاس جګ کړي جنتونه خلک غواړي
دا ولې ورځ تر بلې بترې امن نشته
باچا او وزير څه شول؟ جوابونه خلک غواړي

لاهاغسې يو ورور ناست دے د بل وينو ته تږے
کوچيه لاد سرو وينو رودونه خلک غواړي

مَهن دے په دې کلې کښې ارمان ورته یاد ږي
په دې لوري چې وګوري جانان ورته یاد ږي

دا ستا مَهن د شپې تل څڅوي تاپسې اوښکې
دا ستا تصویر راواخلي ستا خفګان ورته یاد ږي
یو وخت کښې ورښودلي چا په څمکه وو پاس ستورې
اوس هم څمکې ته نه ګوري اسمان ورته یاد ږي
په بدو کړو که هر څو دے مجبور خو ولې بیا هم
ضمیر یې مخکښې نه پرږدي ایمان ورته یاد ږي
زما او ستا جوړه هم زړه رابنکونکې ده ملګریه
چې دا بابا مونږ وویني یاران ورته یاد ږي

کوڅې د ډوډۍ کپ له ستوني نشي تېرولے
د ګران وطن نهار غریبانان ورته یاد ږي

هر څه دي خداے ورکړي خو نيتونه يې بنه نه دي
مخونه يې تک سپين دي ولې زړونه يې بنه نه دي

د دوی په پستو ژبو چې بيځي باور ونه کړې
دا خلک ګفتار بنه کړي عملونه يې بنه نه دي
اوس هم پکښې ورور ورور پاڅي کړي د ورور سره جنګونه
دا کور ډېر ښايسته دے رواجونه يې بنه نه دي
غاصبه له تا مخکښې دلته ډېر توبه ګار شوي
چې ما ګوزار ورکړے پرهرونه يې بنه نه دي
زمونږ ورسره هاغسې د فکر تضاد شته دے
زمونږ باچا خُله بنه لري کارونه يې بنه نه دي

رينبتيا تا دا خبره خپل کوچني رهبار ته کړې
کوچے راباندې ګران دے خو شعرونه يې بنه نه دي

د عطرو خوشبويي دي د لفظونو نه راځي
سُرخي دي د سرو شوندو له سرونو نه راځي

دا څوک دے دا چې سخته کښې مې مرستې ته ولاړ وي
دا څوک دے دا چې نور يې د لاسونو نه راځي
زما تياره صورت ددې په سبب درومي
رڼا دا د پے مخو چې مخونو نه راځي
دا څو کسان چې ناست دي او مجلس کوي د بنکلو
د خدائے رحمت په دوی له اسمانونو نه راځي
له سرو شوندو چې وباسي ترخې ترخې خبرې
بڅرکې د سره اور وي له اورونو نه راځي

د مينې کر په دې ځمکه لاچا هم کړے نه دے
کوچيه دبنمني لاد نيتونو نه راځي

هر څه کړې رانه هېر دوی مې په زړه وي بې له خدایه
یو څوک راته د هر چا نه خواږه وي بې له خدایه

مونږ هر ملنګ ته وکړو لپې لپې دعاګاني
زمونږه د خوارانو سره څه وي بې له خدایه

پوهېږم نه چې شوم یم او که هسې مې دا زړه چوي
سپوږمۍ چې د چا ذکر ستا په خُله وي بې له خدایه

چې لاس په مینه راکړي نو د ټول ځان اختیار ورکړو
تر دې حده هغه مونږ ته درانه وي بې له خدایه

کوچیه له پیے مخونه که ځان په ډډه غواړې
نو هغه ځاے ته لاړ شه چې څوک نه وي بې له خدایه

سيني نه مې وېستلے دے چا زړه د ګاکا زويه
مرې نه مې تيرېږي نه اوبه د ګاکنا زويه

اوس پرېږده چې همداسې منجور د پيرې بابا يم
زړګي مې رانه دغه څه غوښته د ګاکا زويه

ته ګوره زما سترګو کښې تصوير د چا ښکارېږي
په لاره راته هر سړي کاته د ګاکا زويه

څوک نه لرم چې ماته ګلالی به په نامه کړي
زما غريب به کله وي واده د ګاکا زويه

دا چا اختيار راکړے چې بې لارې خلک سم کړه
له سترګو مې هر څوک راځي کاږه د ګاکا زويه

ګرمي د پېښور به دې دا ګل ځواني پرې نه ږدي
راځه چې ځو کابل کښې دي سارې د کاکا زويه

دا مه ګوره چې اجر يې دے څه ګټه يې څه ده
چې وس دې څو رسېږي کوه بنه د کاکا زويه

د چا د سورکو شوندې و ذايقه مې حلق کښې ګرځي
په کار مې نه دي شات شکر خوارې د کاکا زويه

ما تولې ورځ دا ستا په انتظار کښې کړله تېره
کوچيه ته مانبآم راغلې له غره د کاکا زويه

غـــزل

وطـن لمبـه لمبـه دے پـه سـحرا چېرتـه اوسـېږي
پـه ځمکـه خو خـاے نشـته پـه هـوا چېرتـه اوسـېږي

نن ورځ خو دې اخيستے له مظلومه د سر سيورے
ظالمـه تـه لـږ سـوچ وکـړه سـبا چېرتـه اوسـېږي؟

هـر لـور د بنـکلو ډلـې دي بهـر تـه چـې لاړ نشـې
زړګيه! په دې بنار کښې به په غـلا چېرتـه اوسـېږي

ريښتيا درتـه پخـه ډوډۍ رادرومـي لـه اسـمانه؟
ملنګـه پـه دې دشـته او بيـدیا چېرتـه اوسـېږي؟

کوچيـه! اوس لـه چـا سـره دوسـتي هـم پکـار نـه ده
کوچيـه! اوس ښـه دا ده چـې تنهـا چېرتـه اوسـېږي

د لارې په شوکمارو به باور کوې چې درومې
زړګیه! ته له هر سړي خطر کوې چې درومې

د سترې ژوندانه په سترو لارو سفر ګران دے
یو څوک خو به د لارې همسفر کوې چې درومې

راتګ سره دې راوړې په امبار امبار غمونه
زړګي باندې مې وار بیا د خنجر کوې چې درومې

مَېن به په چا نه یې خو په دې باندې مې پوه که
دا ولې ببرته شا باندې نظر کوې چې درومې

زړګے خو دې رینبتیا هم د باګرام بنګلو چوولے
کوچیه! خو اوس کومه خوا سفر کوې چې درومې

يې حده ښايسته يې نظرونه درته کېږي
جانانه ددې ټولو خلکو زړونه درته کېږي

دا ستا له لوري نه اړوو بل لور ته مخونه
ستا مخ که کعبه هم نه ده مونځونه درته کېږي

چې ته په سورکو شوند و سور پېزوان وزنګوي نو
زما په سپورو شوند و به سوالونه درته کېږي

دا ستا مخالفين به په تا بر نشي هېڅکله
له کانيو اوله بوټو اوازونه درته کېږي

يو وخت به دې په هېره چا نامه نه اخيستله
کوچيه اوس چې نبه شوې سلامونه درته کېږي

غـــزل

تـه ښـه يـې چـې دې مينـه تـر مکتبـه ده طالبـه
زمـونږه زنـدګي خـولـه غضـبه ده طالبـه
دا ته چې په کتاب کښې شنه خالونه د چا شماري
ريښتيا چې هغـه پېغلـه شـکر لبـه ده طالبـه
چې تخت د سليمان غواړې او کار د وظيفې کړې
پـه دې بـې قـدره دور کښـې عجبـه ده طالبـه
هم ته يې چې ويړيا محبت خلکو باندې وېشې
زمـونږ مينـه خـو واړه تـر مطلبـه ده طالبـه
تـه اوس هـم لاقايـل "د ډب ادب" د نظريـې يـې
زمـا وېـره چـې ده نـو سـتا لـه ډبـه ده طالبـه
يـو تـه يـې د غاصـب پـه خـلاف حـق مبـارزه کړې
دا تـورې دنيـاګې نـو مذبذبـه ده طالبـه؟
چې زوے ته د دهقان يې اخير څنګه به يـو کېږې
هغـه خـو د خانـانو لـه نسـبه ده طالبـه
کـوچـے دے چې يـواخې لـه دې ټولـو خلکـو اوسـې
پـه دې دوز کښـې دا نـو مناسـبه ده طالبـه؟

هرڅوله کښې اوچت تکړه زلمے ولکه ته
مَېن په تک او نام و توريالے ولکه ته

هر وخت به يې تندے سپين خلبده لکه سپوږمی
هر وخت به په سورکو شوند و موسکے ولکه ته
دده ښايسته ځواني ته وه دنيا ګوته په خُله
ښايسته له سور ګلابه ګلالے ولکه ته
د هر ظالم په وراندې به ولاړ ولکه ډال
د هر مظلوم ملګرے تنګيالے ولکه ته
دا نن چې دې په مخکښې څوک ولاړ دے بې قيمت
پرون به يې په ګوته يو غمے ولکه ته

رمه يې څرولې د شپېلی غږ يې راتلو
کوچيه! پوړۍ غره کښې يو سړے ولکه ته

د ګل غوندې جینۍ ده کوي ښکلي چورلکونه
ددې ښار ټولو خلکو یې منلي چورلکونه

زما نادیده زړه غواړي چې دغلتنه ویده وے
څو پېغلو په دې ځاے کښې دي وهلي چورلکونه

ما تل د مازیګر د ښکلا خیال زړه ته راوستے
ما تل کړي اشنا په خیال کښې غلي چورلکونه

لږ پام ورته پکار دے نوے نسل برباد نه کړي
دي هرې بلا دلته زېږولي چورلکونه

زخمونه مې هغسې دي تازه د ارمانونو
کوچیه! څکه کړمه غم څپلي چورلکونه

زه هم د چا په تمه وم رانه وختونه هېر شو
یو کس ټپوس وکړو له مانه جوابونه هېر شو

بلا موده وشوه محفل مشاعرو ته نه خو
هم قافیې هېرې شوې هم مو ردیفونه هېر شو
وختــه چې دا مقام د کومې مرحلې راغلے
په ځاے ولاړ یم رانه کړي مزلونه هېر شو
ستا حافظه خو د صدیو معلومات هم لري
ګرانه اشنا! له ما ویلي کتابونه هېر شو
هر یو سړے د خپله ځانه دے د تېښتې په حال
له چا دردونه هېر شو، چانه خپل غمونه هېر شو

کوچیه یو نظر د هغه بنکلي ود حادثه!
تش په کتلو یې له ما نور منظرونه هېر شو

تندي باندې ستا جوړه څنګه لیکه ده همدمه
د ژوند دې هره لاره چې باریکه ده همدمه

بربښنا به د اسمان تاته رینبتیا بربښنا بنکارېږي
خو زه وایم د چا د زړګي سړیکه ده همدمه
رحمان بابا د بنکلو نړۍ ملا ویښته ګنلې
حمید وایي ددې نه هم باریکه ده همدمه
هغه خلک ددې وطن دولت لوټي لګیا دي
د چا سره چې مرسته له تحریکه ده همدمه
فطري حسن کښې زه د نور سینګار قایله نه یم
ګیله مې له نتکې، پېزوان او تیکه ده همدمه

دا نښه ده چې د چا لپاره پایمه کوچیه
دا نښه ده چې څوک ما سره شریکه ده همدمه

یواځې لاړ یم او یواځې مې خپل سر راوړے
دلتـه بـل کـس دے ده پخپلـو اوږو غـر راوړے
هغـه پـه سترګو کښې څه دا رنګـه تاثیر لري چې
نـور خـو لاځـه کـوې یقـین پـرې جـادوګر راوړے
نن د سرو زرو په بازار په داسې حال کښې پېښ شوم
چې نـه رسـۍ راسـره شـته نـه مـې څـادر راوړے
یـواځې زه یـم چې لاناسـت یـم د اسـمان پـه کـرم
نـورو سـپوږمۍ راوړه تـر کـوره او چـا لمـر راوړے
دا خـو هـم سـتا د اشـنایۍ او نزدیکـت وجـه ده
چې دغـو خلکـو مـا مسـکین باندې بـاور راوړے
هر څوک په ویر دي هېڅوک هم دغه تپوس نه کوي
چې دا وطـن څـوک ورانـوي دلتـه چـا شـر راوړے
د شـعر ژبـه خـو مـې ځکـه د د خـوږه کوچیـه
چـې د بـاګرام لـه ښـا بسـته وو مـې اثـر راوړے

په خپل کالـه کښې او بهـر راتـه جګړه پـاتې ده
د پـلار د قتـل مـې دښـمن بانـدې بدلـه پـاتې ده

ښـايي چې دا سـړے بـه و د لـويې برخـې خاونـد
لاس يـې په کـانې اينبـے جـوړه پـرې چاپـه پـاتې ده
يـار مـې ګټـل غـوارم رقيـب لـرې کـوم د مخـې
دغـه لانجـه لاراتـه هغسـې لانجـه پـاتې ده
لامو د يو بل خلاف ځاے په ځاے مورچې نيولي
لامـو پـه زړونـو کښې يـو بـل سـره کينـه پـاتې ده
هغـه پـه مـا دومـره مَينـه ده چـې کلـي تـه مـې
يـوه سـاعت لـه هـم راغلـې نـو پـه شـپه پـاتې ده

مونږ چې راتلو په سرو سکروتو مو منزل راوکړو
کوچيـه' ټولـه لار پـه وينـو تکـه سـره پـاتې ده

له غاړې مې لاس تاؤ کړه په قراره منجوره
وهلې مې په پښو ده تولاره منجوره

دا نور خلک خو واړه خپل مطلب پسې ګرځېږي
په حقه خو یو ته یې خدمتګاره منجوره
ظلمونه د زردارو د زغم نه وو دلته راغلم
لوګے مې د بابا کړه له مزاره منجوره
دا څه غواړې خلوت کنبې د جهان نندارہ وکړه
زما ستر ګو ته څیر شه زما یاره منجوره
عبث مو عمر تېر کړو نه د بنو شو نه د بدو
راځه چې لاره وګورو تر داره منجوره

هر چا خپل مراد غوښتے دے سهوا له ما کوچې نه
چا غوښتې ده دعا دا ستا لپاره منجوره؛

غـــزل

اسـلاف تاسـب د امـن قـات د زولنـو ورځـې دي
يـکـاږيـې داسـې چې و دار ته د ختـو ورځـې دي

مـا لـيـونـي تـه ددې نـن ورځـې هـم پتـه نـه شـته
او ته لاډا پوښتې چې تېرې د کال څو ورځې دي؟
هغـه ســړے پـه يـال هـواد د عمـر قـيـد تـېـروي
مـېرمن يې کـور په دېوال کښلې د مودو ورځې دي
زه د اختـر پـه ورځـې ناسـتـيـم د غـم ساندې وايـم
يـاران مـې ډلـې ډلـې کرځـي د مېلـو ورځـې دي
پـه جـنـګ مـېنـو تـه پـېغـام د امـن ورسـوه
سـپـيـنې کـوتـرې پـه کابـل د الوتـو ورځـې دي

حـالات تـاوزنـه دي خلـک وارِه غـم خپلـي بـنـکـاري
کـوچـيـنـه نـن سـبا وطـن کښـې د سـلګـو ورځـې دي

سین ته د شګو بند ترلو باندې سوچ کومه
نانه د زړه په صبرولو باندې سوچ کومه

ته مې چې ولیدې خبره له ما هېره شوله
ما څه ویل غوښتل ویلو باندې سوچ کومه
خدایزده چې ولې هغه کس ماته بیا بیا یادېږي
زه چې د چا په هېرولو باندې سوچ کومه
خپل همسفر مې پرمختګ باندې خفه ښکارېږي
له نیمې لارې ستنېدلو باندې سوچ کومه
هغه له ما د بیلېدلو فکر هر وخت کوي
زه د هغه په خپلېدلو باندې سوچ کومه

دلته خانانو راته سور تنور له کلي جوړ کړو
کوچیه! کډې بارولو باندې سوچ کومه

خپله ښايسته ده ښايستونو سره مينه کوي
په باغ کښې ګرځي د ګلونو سره مينه کوي

په ما مَښه ده که هر څو په محل کښې اوسي
زمونږ له دې کچه کورونو سره مينه کوي
زما احساس راپاروي د مينې چل رابنايي
زما په وړاندې مې عکسونو سره مينه کوي
واړه واړه ماشومان د هر ښکلوي ګران دي ورته
د لولکو ښکلو رنګونو سره مينه کوي
زما کتاب تر نيمې شپې لولي په زړه يې کېدي
هغه د ښار ده او شعرونو سره مينه کوي

نظر يې خپلې قبيلې پورې محدوده نه دے
دا ستا کوچے ټولو قومونو سره مينه کوي

په دې هنر خاے کړي يې ګلونه په کتاب کښې
مشکنې. مرغلرې هم لعلونه په کتاب کښې

له دې ويرې چې راز د محبت مې څرګند نشي
ما پټ له دنيا اينې ستا عکسونه په کتاب کښې
دې يو نيم کس د خان له دايرې نه وتل ګران وي
دې يو نيم کس ته ښکاري اسمانونه په کتاب کښې
يوه ذره دا ستا د حسن حق به ادا نه کړي
که ټول عمر دې وشي صفتونه په کتاب کښې
په خاے د لاس د کرښو يې د مخ په ننداره شي
دا خينې پالي ګوري قسمتونه په کتاب کښې

په مخ د اغله ويل يې ته کتاب ليکې کوچيه؟
په مخ باندې هم وليکه شعرونه په کتاب کښې

دے بختور واړه صورت یې د خدا ے نور وختو
د حاتم ورور شو په سخا کښې مشهور وختو

چې اوازه دلته د چا د عاجزی خوره وه
هغه سړے چې مونږه وکتو مغرور وختو
په توره شپه کښې ما له ډېرې ویرې ورکړ ګوزار
شو چې په څمکه راګوزار زما تربور وختو
چې د کوم زخم هڅه مونږ د درملنې نه کړه
هغه یو زخم دا د ے ټول قام ته ناسور وختو
هغه یو لاش چې په بازار کښې بې وارثه پروت و
شناخت یې وشولو هغه هم د مزدور وختو

کوچیه زه مې د خپل خون دعوه په چا نه کوم
زما دا خپله بې وسي زما قصور وختو

د حق اواز په سر د دار مې و په حقه کړے
یم پرې خوشحاله دغه کار مې و په حقه کړے

د هغه قتل بدل هم رانه وخت واخیستلو
چې زه ماشوم ومه او پلار مې و په حقه کړے
ځان مې له میو ژغوره، هم د جانان زړه مې ساته
له سورکو شوند و نه انکار مې و په حقه کړے
د اوسپدونکیو حال یې نه و د کتلو جوګه
ستاسو د ښار ځنې فراز مې و په حقه کړے
هغې ویل چې زه سزا خورمه د هغې ګناه
د خپلې مینې چې اقرار مې و په حقه کړے
بغیر له دې یې زما درد محسوسولے نشو
په ستر ګو ستر ګو کښې اظهار مې و په حقه کړے

چې د غاصب په خلاف جنګ و د لښکر په سر کښې
کوچیه هغه کړے وار مې و په حقه کړے

غـــزل

بنـادي دې رانـه يوورلـه او ويـر دې راتـه پرېښـود
جانانـه تـه چې تللې نو تصـوير دې راتـه پرېښـود

چې تللې نو زر ودرېدې له غـاړې دې راخلاص کړو
د مينې يـوه ننبـه خپـل زنخيـر دې راتـه پرېښـود
زما مَـښ زړګے خـو دې په هېـره هـم يـاد نه کړو
په تـا چې زهيـر شـوے و زهيـر دې راتـه پرېښـود
دا ستا په تک مې سترګو نه هـم تللې دې خوبونه
آرام دې ترېنه واخيـسـتو شوګير دې راتـه پرېښـود
کـه هـر څـو واړه کړنـې دې تقـدير پـورې تړلـې
خو بيا هم شکر ستا دے چې تدبير دې راتـه پرېښـود

په مـخ دې اوښـکې تللـې چـې دې کـډې بـاړولې
کړچيـه خـو د يـوه ديـدن تـاثير دې راتـه پرېښـود

غم او اسویلے مې تر فلګه پسې ووتل
دا دوه راندې وګورې په ورګه پسې ووتل

شوق د سرداری ګډلو د پلار مرګ ته بهرام تیار
غره ته د لښکر سره ختګه پسې ووتل
شول چې د غاصب په راتګ د څه پښتانه خبر
کوربې نور څه نه وله ګوتګه پسې ووتل
بنکلي دلته راشي او چې څې نو اشارې ګوري
زړونه خو زمونږ له سینو څخه پسې ووتل
څه تندر پرېوتے؟ بیا څه پېښه بهر شوې ده
ورونه مې ملا بند او د توپکه پسې ووتل
غلا څه وه د شپې چې واړه ګلي خالي پاتې شو
لوی او واړه وګوره د ټکه پسې ووتل

وخت چې د تاوان و د هر چا ګوچې ته ستر ګې وې
وخت چې شو د ګټې نو ملکه پسې ووتل

ستا تصور مې د دردونو شوندې پرانېستلې
د زړه په تل کښې مې زخمونو شوندې پرانېستلې

خانیه تاته سخنورو خلکو هېڅ ونه وې
زما خلاف خو دهوالونو شوندې پرانېستلې
له کانې سخت زړه به دې درد وکړي ژړا به درشي
اشنا که ما ستا له غمونو شوندې پرانېستلې
یمه شاعر د زمانې زه په دې ویار کومه
ما په قلم د ولسونو شوندې پرانېستلې
چې سرو بنکاریانو لاس ترلي توره شپه کښې بیول
نه امام غږ کړو نه یې ورونو شوندې پرانېستلې

چې د مړو شوو به یې حال معلوموه کوچیه
یوه بزرګ ته به قبرونو شوندې پرانېستلې

هر څوک سخنوري سخنوره تاونه کړه
خبره چې خبرو کښې وه غوره تاونه کړه

جابر باچا په مخکښې کليمه د حق ويل وو
قيصه د قام د خير وه ژبه وره تاونه کړه
پالو به اوس د پلار نيکه بدي تر پايه پوري
جرګه چې د کېدو وه زوروره تاونه کړه
په يو نظر دې زړه راځنې يورلو او لاړې
خو بيا چرته راپېښه مسافره تاونه کړه
اوس خپل ځانته خبر غواړه جنګ دې وره پورې راغلے
زمونږه ملګرتيا خو نبه په نره تاونه کړه

تنها يې په شپېلۍ کښې اوس د ياد سندرې وايه
کوچيه د لفظونو جادوګره تاونه کړه

نه يې زړګے راکړو او نه يې هم انکار وکړلو
ښکلي په سترګو کښې څه بل رنګه اظهار وکړلو

بدبختي ګوره چې هغه هم د لستونې مار و
ما چې په ټول ژوند کښې په کوم کس اعتبار وکړلو
دا دې احسان راباندې بار شو سپرلي مخيه يارە
د رقيب مخ کښې دې په ما د ګل ګوزار وکړلو
له هغې پس يې بيا په ځمکه پښه ونه لګېده
يو قلندر و شهزاده ته يې ازار وکړلو
تا به په سپين ميدان کولې د ننګ لافې راته
چې د رينبتيا راغله خبره تا فرار وکړلو

کوچيه دې سړي ټول ژوند و ناقرار تير کړے
دا يې دے قبر په دې خاے کښې يې قرار وکړلو

هر چا راوړو عذاب کار د ثواب هېچا ونه کړو
دې لوی بنار کښې د خپل ځان احتساب هېچا ونه کړو

هر کس و دانشور بنۀ پوهېدو خو خدا ېزده ولې
چې ما کله سوال وکړو نو جواب هېچا ونه کړو
له ما د معجزې په شاتې فن هغوی غوښتلو
باور مې په قسم او په کتاب هېچا ونه کړو
زه خود ناکامبدم به هلته بل رنګې دنیا وه
تپوس رانه زمونږه د نصاب هېچا ونه کړو
هر چا د خپل هنر خواږه راوړي وو بازار ته
زما د ترمو اونبکو انتخاب هېچا ونه کړو

ما هر قدم د خپل ضمیر په خوښه باندې اینښې
کوچیه څکه ما سره حساب هېچا ونه کړو

روان تـرې پـه سـفر يـم د خبـر دپـاره راغلـل
يـاران مـې ډلـې ډلـې يـو نظـر دپـاره راغلـل

جومـات مـې جوړولـو نـو هېڅـا مرسـته ونـه کـړه
بنـډل بنـډل لوټونـه د منـدر دپـاره راغلـل
د شـپې چـې پـه چـرو دغـه مقتـول و چـا وهلـے
سـحر يـې قـاتلان هـم د بـاور د پـاره راغلـل
درياب د مايوسـۍ چـې کـوم سـاعت زه ډوبـولم
بـې شـمېره نـور غمونـه يـې اشـر دپـاره راغلـل
پـرون مـې وضـاحت کـوو څـوک نـه وو پـه دار کښـېږم
نـن کـوره څـومره خلـک دې منظـر دپـاره راغلـل
دا سـيمه قبيلـي ده نـن يـو کلـے بيـا ورانـېږي
خوانـان ملابنـد تړلـي د لښـکر دپـاره راغلـل

کـوم خلـک چـې د امـن بنيـاد کړ بـه ګنـل مـونږه
کوچيـه هغـوی دلتـه کښـې د شـر دپـاره راغلـل

خون به د چا وکړې له دې نه بهر مه وخه
یاره! د ساقي له مېکدې نه بهر مه وخه
تور به شې د تورو حبشانو غوندې تور به شې
سپین لکه ایمان یې د کعبې نه بهر مه وخه
پرېږده دا زما گمنامي بنه ده پکښې خوښ یمه
ژوندۍ ددې تکې توري شپې نه بهر مه وخه
هسې نه چې واړه عبادت دې شي په سین لاهو
شیخه ددې خپلې وظیفې نه بهر مه وخه
څوک ملنگ به راشي په کچکول کښې به دې واچوي
گوره سمندره دایرې نه بهر مه وخه
پلار مې راته وویل په هر لوري مرگونه دي
زویه د خپل کور د دروازې نه بهر مه وخه
هسې نه د ټولې دنیا غم راته په سر کېدې
خیاله د اشنا د تذکرې نه بهر مه وخه
ډېره غلبه په دې وطن کښې د لېوانو ده
وه یاره کوچیه د خبمې نه بهر مه وخه

نصیب یې بد شولو دې لور ته راونه رسېدل
لرل یې هر څه د خدائے کور ته راونه رسېدل

دوارِه زامن یې دومره لرې مزدورې ته لاړ وو
وروستي دیدن د خوږې مور ته راونه رسېدل
اوس چې زه قتل شوم هېڅوک دې اوښکې نه تویوي
زما خلاصي له هغه شور ته راونه رسېدل
هسې خو هر سړي دعوې د قربانۍ کړلې خو
د ابراهیم غوندې سره اور ته راونه رسېدل
اوس خو زما په کامیابۍ بریت تاووي ملګري
خو د جابر پرخلاف زور ته راونه رسېدل

چې ورسره د زړه پرهر مې جوړېدو کوچیه
هغوی ددې زخم تکور ته راونه رسېدل

ورته ثواب غواړمه، مخه د عذاب نيسمه.
بې ګناه خون ونه کړي لاره د نواب نيسمه.

هغه کتاب ګوري او زه يې کړم د مخ تماشه
خو چې راپام يې شئ زه هم مخ ته کتاب نيسمه
نن شپه د چا په تصور کې رونومه څکه
نن شپه لمن کښې ستوري نيسمه مهتاب نيسمه
ستا په اقرار وچول غواړم اوښکې ستا د مخ
په دغه يو تکي زه مخه د سيلاب نيسمه
تمامه ورځ د شنو خالونو په شمار تيره کړمه
چې کله شپه شي بيا له سره دا حساب نيسمه

هغه نادان وخېژي وې رژوي، وې غورځوي
کوچيه زه چې دلته چا وته ګلاب نيسمه

ته څه یې راته بنایې ما لیدلے دے مرجان
له رنګ په رنګ غمیو څنې بنکلے دے مرجان

له بنکلې غارکې د کومې پېغلې و پرېوتے
پرون مې د ګودر په لار موندلے دے مرجان
اوس هم ډېر لامبوزن پسې غوپه شي نه یې مومي
چې تا کوم سمندر ته غورځولے دے مرجان
مشکنۍ، مرغلرو، اشرفیو نه بنایسته دے
په غاړه دې چې زانګې نو بنا غلے دے مرجان
لټون پسې کومه څمکه وچودله ورک شو
بېګاه رانه دې ځاے کښې غورځېدلے دے مرجان

کوچیه! اوس زمونږ د خوږ وطن په خزانه کښې
ده تشه سیکه پاتې چا تروړلے دے مرجان

رقیب لکه فرهاد ستا د ګټلو دعوه ګیر دے
ژوندے راغلو د غره د ماتولو دعوه ګیر دے

له چا سره چې ټول عمر ما یوخاے دے تېر کړے
تعجب دے چې زما د هېرولو دعوه ګیر دے!
هغې ویلې چې اوس خو اوبه تېرې دي له ورخه
زما اوس دلته بل څوک د کولو دعوه ګیر دے
هغه غریب چې دلته مزدوري تمامه ورځ کړي
هغه هم ددې ښار د جوړولو دعوه ګیر دے
دا کس چې په مغنا د محبت هم نه پوهېږي
دا کس مې د جانان د خپلولو دعوه ګیر دے
د خپل قتل بدل به زه له چا چا څنې اخلم
زما خو دلته هر څوک ذ وژلو دعوه ګیر دے

کوچیه! اوس یې زه هم نه څارم د راتلو لارې
او هغه هم د زړه د صبرولو دعوه ګیر دے

دلته کښې تل خلک جنګونه کوي نه ویرېږم
راته په غوږ کښې که ډزونه کوي نه ویرېږم

ډیوه کښې تېل نشته خو خیر دے ضرورت یې نشته
لاخو بهر شپانه غږونه کوي نه ویرېږم
دلته خو کانې دي او بوتې دي سارا ته راغلم
اوس که خبرې د هوالونه کوي نه ویرېږم
زه او جانان لا ماشومان یو په جنګ نه بیلېږو
ماشومان بیا یوځاے کورونه کوي نه ویرېږم
لاخو زما نه څوک خبر نه دي نا اهله بادشاه!
تاته که خلک سلامونه کوي نه ویرېږم

زه که زړور یم که بې زړه یم په دې نه یم خبر
کوچیه! دوی مې صفتونه کوي نه ویرېږم

ژوند رانه درومي اوس ولاړ د مرګي ورته يمه
لکه فرهاد تېشه په لاس راغلے غرته يمه

هغه چې روستو له ما راغلل ډکې لپې لاړل
اوزه لاهغسې ولاړ د قطار سرته يمه
ددغه کس ښار کښې د حسن آوازه خوره ده
زه چې ډ چا سره راغلے دا ستا درته يمه
د لېونتوب دا انتها ده او که څه کېدے شي؟
دا چې له ځانه خبر هم نه يم چې چرته يمه؟
ته چې په يو ځل ليدو خلکو ته ژوندون وربښې
لېوالـه زه هم ستا د رحم يو نظر ته يمه
وايي هغوی هم چې زما د ليدو دي ارماني
د چا د لاسه چې راغلے زه بهر ته يمه

چې يې له پانو څخه هم خوارې د شاتو څاڅي
کوچيه زه ناست د هغې ونې ثمر ته يمه

چې جدايي هم په خطا يادې کړي، وويرېږم
يار مې چې هسې دا بلا يادې کړي، وويرېږم

زه چې د زړه نه تپوس وکړم زوروليږ يې چا؟
راته په سر کښې نامه ستا يادې کړي، وويرېږم
وايمه هسې نه شمر پيدا شي ظلم وکړي
ياران چې کله کربلا يادې کړي، وويرېږم
زه د ګناه په نيت روان يم خو راستون شم بېرته
دا خپل ضمير راته سزا يادې کړي، وويرېږم
زه چې زلمې ومه په توره مې بادونه وهل
خو اوس چې هسې څوک هوا يادې کړي، وويرېږم
دا به وي څه رنګه انسان چې ناروا به کوي
ماته خو څوک چې ناروا يادې کړي، وويرېږم

موسکے شي څان سره د خوږ اشنا سلام يې واخلي
قيدي د عمر د هوا په لار پېغام يې واخلي

دا څوانه کونډه خپل زوے څکه په سختۍ لوېوي
نور څوک يې نشته د خاوند چې انتقام يې واخلي
دغه سړے چې د يوسف په شانتي حسن لري
څوک زلېخا به پيدا نشي چې غلام يې واخلي؟
لاره که هر څو وي اوږده تر کوهې طوره پورې
زمونږ رهبر وي سپين سپېځلے په يو ګام يې واخلي
څوک چې پرې تل غشي ورولي دي د بلې خاورې
خو چې اسمان کله غچ اخلي له باګرام يې واخلي
هغه ده دومره خوش اخلاقه او خوارۀ لري چې
زه تش سلام ورباندې وکړم لاس په نام يې واخلي

زړه مې ګندلے دلته ګنبې د يوه بنکلي سره
خپمه مې خکه ودروله دغه ګلي سره

په دې لار تلے وم په دې لار رانه ورکه شوې
خکه خو سوال خواب کوم هر ودرېدلي سره
زه او رقيب ژوند د يوه مقصد دپاره کوو
خو مونږ تراوسه د يو بل نه دي منلي سره
يوه ورځ پس يې وليدم راته په فکر کنبې شوه
ويل يې ما او تا خو چرته دي ليدلي سره؟
ته هم زما غوندې يتيم يې زه هم تا غوندې يم
قدرت ته ګورچې يوځاے شو غمخپلي سره
همدمه دا انداز زمونږ هم دے خانګړے غوندې
نه چرته لاړو او نه چرته يو راغلي سره

کوچيه بيا مې تش ګوګل تر خپله کوره راوړو
زړه مې بهر شو رانه پاتې نازولي سره

د چا دلاسه چې موتن باندې تغمې پرتې دي
د هغو خلکو په سینو لویې تمغې پرتې دي

هغه دروښ خو ځکه پټه زندګي تېروي
وایي چې دلته په قدم قدم فتنې پرتې دي
مونږ د بل مرګ پسې ټوپکې ګرځولي اشنه
زمونږ په سر ځکه بلا، بلا لانجې پرتې دي
لاد منصور غوندې په دار باندې ختلي نه یو
لاخو زمونږ په وړاندې ډېرې فاصلې پرتې دي
دا خلکَ له یو بل دي ویزاره که مَېن په حیا؟
چې هر خوا بندو دروازو تهٔ یې پردې پرتې دي

له دغه ځایه نه یې ځلا هلته راتله کوچیه
دلته چې راغلو ماتې ماتې آئینې پرتې دي

ستا جدايي چې دوه جهانو نه اوړه ده په ما
زندګي څکه تهره شوې شوګيره ده په ما

توپک يې څنګ ته واچو دا خبر يې تلو کښې وکړه
ما سره مه ګرځېږه مړ به شې دعوه ده په ما
له سپينې خُلې رادوړوي د مرغلرو قيصې
يار پېرزو کړې د غميو خزانه ده په ما
خبره دا نه چې يواځې پسې زه رنځور يم
خبره دا چې هغه هم ژوندی او مړه ده په ما
اوس به د هر سړي دا فکر وي چې پښې وباسي
زما دښمن چې سمه کړې نښانه ده په ما
ورته مې ويل څنګه دې تور وربل کښې سپين ښکاره شول
ويل يې د پلار په کاله ناسته يم لاتجه ده په ما

زما په تلو باندې دا کاڼي بوتي هېڅ نه وايي
کوچيه ښکاري چې دنيا ټوله خفه ده په ما

سارا ده شپه ده ستا د لوري څه سوغات هم نشته
چې په غزل کښې يې کړم خاے هغه خيالات هم نشته

خبره دا نه چې يواځې هغه ده بې پروا
خبره دا ده چې فرصت د ملاقات هم نشته
خلکو د قام په بيه رنګ په رنګ تمغې اخيستي
شکر چې مونږ سره خو دا رنګ اعزازات هم نشته
چې بيا د څه لپاره جنګ کړو د لښکر سالاره
دښمن مو نشته چې يې مات کړو سومنات هم نشته
زما ملګري په هر ځاے کښې اعتراف يې کوي
ګنې زما وړاندې لږ څه احسانات هم نشته

کوچيه ذهن کښې زما چې کوم سوالونه ګرځي
له چا سره يې ټول وطن کښې جوابات هم نشته

خلک یې نه پرېږدي په دې لویه درۀ کښې خیمه
کوچي اشنا مې څکه ودرولـه غـرۀ کښې خیمه

لـه زیاتـه غمـه د وصـال پـه خـوږو پویـه نـه شـوم
د غریبـانو خلکـو څـاڅي بارانـۀ کښـې خیمـه
ببلتون ظالم به مې په دې مکان کښې هم پرې نه ږدي
ما که هر څو ده ټک وهلې ستا په زړه کښې خیمه
باچـا اعـلان کړے چې دا کـال زلزلـې بـه راځـي
بایـد چې هـر یـو سړے ولـري کالـۀ کښـې خیمـه
هغـه قاتـل نـه و شـتمن و څکـه وتښـتېدو
د غلو له ویرې نه یې بار کړه په تیـاره کښـې خیمـه

د وطـن دشـتې درنـه هسـې هـم غاصـب ونیـوې
کوچیـه راشـه کـړه ولاړه زمـونږ ورۀ کښـې خیمـه

چې تا به وې په سپینه خُله شکرې وې سندرې
بغیر له تا به مانه مروري وې سندرې

هغه شاعره نه وه خو شعرونه ورته یاد وو
هغې چې به کولې څه خبرې وې سندرې
بېګاه زمونږ په خونه کښې نرۍ نرۍ ژړا وه
بېګاه په تمام کلي کښې سندرې وې سندرې
ما حق ادا کول غوښتل د فن ستا خیال بدل و
همدمه ستا کتاب کښې توري زغرې وې سندرې
دډول په غږ پسې تلو خپله لاره مو کړه ورکه
ښادي وه چېرته لرې چېرته لرې وې سندرې
د هغې نڅاګرې هر انداز له ښکلا ډک و
له خُلې یې دورولې مرغلرې وې سندرې
ملنګه مسافره! تا تلاش کاوه د کوم خاے؟
په لرچم کښې ماتم و دلته بېرې وې سندرې

د کوندې کور کښې د ماتم د عاشورې شپه ده
واړه بچي يې نهر ناست دي د جمعې شپه ده

له سترګو سرو نه دې راڅاڅي د مظلومو وينې
ظالمه بيا خنجر په لاس چا پسې ځې، شپه ده
په هر پاتک باندې ولاړ سړي خواره د عزت
سوالګرې څنګه به خپل ځان دلته ساتي، شپه ده
نه انتظار، نه د چا ياد او نه د اوښکو سېلاب
په ژوندانه کښې مې راغلې بې مزې، شپه ده
څولېوني د بنار د څنډو نه راغلې بهر
په زوره زوره ور وهي د مېخانې، شپه ده
بارانه ته دې دا خپل زور لږ په قابو کښې لره
زمونږ بې وسو بيا راغلې په مېړې، شپه ده

چې به مې ونه لیده ستا دا مبارکه څېره
نو هغه وخت به شوه له مانه خپله ورکه څېره

وایي چې وږي نظرونه کاني هم ماتوي
پټه ساتلې ده جانان له خلکو څکه څېره
خدایزده چې ولې هغه ماته په ناز داسې وایي
ښه دې په ما د سره نه لګي هلکه څېره
هغه په خپل فن کښې څه نوے انداز ځانته لري
نه د مومند په څېر دے، نه یې ده ختکه څېره
څومره ښایسته ځوانۍ دې خاورې کړې د خاورو سره
ستا دې پخپله زیاتي ورکه شي توپکه څېره
هغه سړے چې جیب کښې دوه دري روپۍ هم نه لري
هغه سړي ته خدائے ورکړې ده ملکه څېره

مَښ خو نه یې رنګ دې زهر شولو زما په راتګ
کوچیه ولې دې بدله شوه د تکه څېره

په تا پسې ګرځېږم سپین بشره راپیدا شه
دا کار د معجزې وکړه له غره راپیدا شه

د پېغلو ارزوګانو جنازې مې رخصتېږي
په کوم وطن کښې ورک یې مسافره راپیدا شه
له سپین رخسار دې څې خوشبو د مشکو د عنبرو
دنیا مې د وجود کړه معطره راپیدا شه
په سترګو کښې مې څیر کړه خپل تصویر د سلطانته
لاسونه رانه تاؤ کړه منجوره راپیدا شه
کانړه غوږونه ګرځولې تکا د مردکیو
دې چم ته لکه امن ناخبره راپیدا شه
بغېر له تا پخپل ځان پسې یمه لالهانده
تکوره د زړګي، زما نظره راپیدا شه

زما په برخه کښې خزان وي بهار اخوا ته وي
زه د سين دې غاړې ولاړ يمه يار اخوا ته وي

د څاے نوم نه راځي خو ما چې چېرته لوبې کړي
د هغه کلي څنې د هر لرې ښار اخوا ته وي
هسې قسمت وي وار سم کړے د دښمن تندي ته
ګنې نو کړے ما د کاني ګوزار اخوا ته وي
زه چې اخوا ته يم نو غم او بې وسي مې مل شي
زه چې دې خوا ته يم سکون او قرار اخوا ته وي
دغه ملک يې وي په دومره بې دردې وژلے
چې تن يې دلته غورځېدلے دستار اخوا ته وي

د خوف له وجې به يې بيا هم خوا ته نه ورځي څوک
کوچيه! څه که خزانې نه ښامار اخوا ته وي

هر وخت يې څه له ستايې ما منلې اشرفی
ګانو کښې خو تر ټولو نه دي بنکلې اشرفی

زما د نري زړه به نرے درد نه شي قرار
چې تا په نری ملا وو ټک وهلې اشرفی
خوارانو پکښې شپې ورځې نهره تېرېدې
خانانو يې په ځمکه کښې منډلې اشرفی
محفل کښې هغه وخت رڼا خوره شوه په هر لور
دا ستا د سور قميص چې پرقبدلې اشرفی
وربل باندې دې جوړ د اشرفيو وو بازار
له نازه په لمنه دې تومبلې اشرفی

دا چـــا دي راتـــه کـــې نظرونـــه غلچکـــي
چې ســـترګې تـــه مـــې نـــه راځـــي خوبونـــه غلچکـــي

ددې خـــاے د هـــر کـــس دي اندامونـــه خکـــه مـــات
په دې خـــاے کښـــې ځـــوږ خبرې تندرونـــه غلچکـــي
دا زړه مې په کوکل کښې نشته پاتې دے کندول
بـــے مخـــې وو راوړې ســـرۀ لاســـونه غلچکـــي
دا خکـــه خـــو زمـــا د فکـــر حـــد نشـــو معلـــوم
چې خیال تـــه مـــې راځـــي ســـتا تصویرونه غلچکـــي
تـــه هـــر وخـــت رنګ بـــه رنګ راتـــه رنګونـــه اړوې
مـــا هـــر وختـــې خـــوږلي ګوزارونـــه غلچکـــي
مـــونږ تـــل د زړه خبـــره خونـــدي کـــړې دده پـــه زړه
مـــونږ تـــل پـــه لاره کـــړي دیدنونـــه غلچکـــي

کوچیـــه پـــه ډې کلـــي کښـــې وي هـــره ورځ مـــاتم
کوچیـــه دلتـــه ډبـــر کبـــږي مرګونـــه غلچکـــي

محتاج کښې لګېدلې چې لمبه نه ده مطربه
نغمه دې د رباب خو بې نغمه نه ده مطربه

خونبېږي مې تپې خو که رښتیا راباندې وایې
لیکلې مې په ټول ژوند کښې تپه نه ده مطربه

دا خلک خو د وېښ نه په تالان باندې خوشحالېږي
د ورځې تنګ تکور غواړي لاشپه نه ده مطربه

دا ولې رانه خواوشا محتاج چوندلې زاچوندلې
ته غلے شه پام وکړه زلزله نه ده مطربه؟

کال وشولو خو هېڅ هم ونه غونډتو بادې ته
دا ښار ووایه ته چې هدیره نه ده مطربه؟

چې ولې مې ستا غونډې مندې زنې ته زړه کبږي
خولګې خو دې د شاتو نه خوږه نه ده مطربه

زما اواز له ځایه د هر چا په زړه خوږ لګي
ځکلې مې د کوم زیارت خورده نه ده مطربه

پردي زړونه ګټل خو د عمرونو مزل غواړي
خوره لاستا په چم کښې اوازه نه ده مطربه

ته داسې نااشنا نااشنا مه راته وایه وه
وتلې مو ترمنځه زمانه، نه ده مطربه

کوچې هم ستا په شانتې په مات زړه سندري وایي
لیدلې یې لاچا زخمي سینه نه ده مطربه

یـوه چـې درتـه درکـړي او بیـا بلـه درکـوي
جانـان هغـه تـه وایـي چـې خُلـه خپلـه درکـوي

زړګیـه تـه چـې کـړې د چـا لپـاره شـاعري
هغـه هـم تاتـه داد د زړه لـه تلـه درکـوي
یـو ځـل راشـه او دا هرځـۀ د ځانـه سـره واخلـه
دعـوت زمـونږ د سـیمې خلـک اجلـه درکـوي
مـدام دې شـاه لـیلا پـه لـوړه پـوزه ګرځـوي
زرګـر اوبـه د سـرو زرو چارګلـه درکـوي
دا ځکـه خـو دا سـتا خوشـبو دمـاغ کـه معطـر
شـبنم هـر سـحر غسـل تاتـه ګلـه درکـوي

کوچیـه! د حسـینو پـه قـانون کښـې نشـته دا
چـې زړه درځنـې واخلـي بیـا یـې کلـه درکـوي

د مینې محبت یو څو خبرې پاتې دي
جانانه په سرو شونډو دې سندرې پاتې دي

زما بنکاري نظر درنه تاویږي څه په چل
ستا دوه سترګې هوسی دي خو اوتري پاتې دي
له دې کوزنه دي څومره په تادی وتي بندیان
نیم کښ یې د کوټو ورونه لرې پاتې دي
زما د څوانی هم چم کښې خوره ده آوازه
او تانه هم په حسن کښې ملګرې پاتې دي
یاران نښه دي چې لاهم ویاړ کوي په دې خبر
چې دلته غاصبانو نه لښکرې پاتې دي
زه اوس هم د چا یاد نمانځم د اوښکو په باران
زما سره لاهم دا مرغلرې پاتې دي

په دې میدان کښې ښایي جنګبدلے وي لښکر
کوچیه ماتې توري او څوزغرې پاتې دي

څـو ورځـې زنـدګي مـې مېلمنـه ده زرداني
په خيـال کښې مې د خپـل قبر نقشـه ده زرداني

دا سـخت کوچـانے ژونـد او دا ژوره خاموشـي
تـه څـو خـوږې تپـې ووايـه شـپه ده زرداني

دا څکـه مـې د سـترګو تـور پـه سـپينو شـول بـدل
په سترګو کښې مې ستا سپينه څېره ده زرداني

په حال کښې يمبه ناست او خاطرې کړم د ماضي
ژونـدون مـې تـول پخپلـه تماشـه ده زرداني

پـه لاسـو دې د سـپينو زرو غـټ غـټ باهوګـان
پـه غـارې دې اوږې د سـرو پرتـه ده زرداني

تمامه ورځ شپېلی غږوم میږې څروم
نور څه وکړم خو دا مې نصیبه ده زرداني

زه خپله لهونے یمه چې غږ ورته کوم
دنیا د بې غمی په خوب اوده، ده زرداني

دا مینه هم له پوهې خالي نه ده شومه پوے
زده کړې مې د صبر وظیفه ده زرداني

دې تورو تورو زړونو مې کړو دومره ذهن تور
چې سپینه رڼا ورځ راباندې شپه ده زرداني

ته څه به پکښې وګورې د ژوند نوے اغاز
زړګے د کوچې ورانه هدیره ده زرداني

غـــزل

خلـک واړه بـې جـواب دي سـتا پـه تـن کښې
خړې خـاورې د عـذاب دي سـتا پـه تـن کښې

څـوـلي چـې د خـدا ے لـه ويـرې سـتر ګو
هـم هغـه اوښـکې دريـاب دي سـتا پـه تـن کښې
لاهغسـې پـه مـا ځمکـه اسـمان چـورلي
لاهغـه زاړه شـراب دي سـتا پـه تـن کښې
نښـه دې هېڅکلـه پـه نـورو نـه لـوړېږي
دا خويونـه د نـواب دي سـتا پـه تـن کښې
پـه خـوږو وږمـو پسـې بلـه خـوا نـه ځـو
خوشـبويي خـو د ګـلاب دي سـتا پـه تـن کښې

په محفل کښې ګډ بدلي نخاګري
زما اوښکې څخه بدلي نخاګري

کاشکې ته زما د خړ کالۍ څراغ وے
په قربان بۍ مې بللې نخاګري
پښتون فکر مې مجبور کړ بغاوت ته
کړه خویونه د مغولي نخاګري
ستړي روح ته مې غذا د سرود ورکړه
راته ووایه بدلي نخاګري
د خلیج شېخان له خپله ځانه ورک وو
سو هندوي چورلبدلي نخاګري

ښاپېرو د کوهِ قاف دي ډولي وړله
چې کوچي ته ودبدلي نخاګري

غزل

په خطا کښې بُتکدې له یم راغلے
د سرو زرو خزانې له یم راغلے

چې د رنګ او نور ښایست راته څرګند کړي
پیره داسې وظیفې له یم راغلے

اوس خو ستا موندل اسان شو ګرانه، نه ده
په پوښتنه خو کعبې له یم راغلے

چې زما په مرګ پسې به ګرځېدلو
ګوره نن یې جنازې له یم راغلے

له کړکۍ نه سر راوباسه څه وایم
بېرته څم یوې ګیلې له یم راغلے

دا بیا بیا توبه خو لویه مسئله شوه
له توبو څنې توبې له یم راغلے

افسوس تاسو مې خبرو پوزې خاندئ
او زه تاسو ته رشتې له یم راغلے

شهزاده یم سر مې ستا په ژنګون اینے
د یادونو جزیرې له یم راغلے

ما ویل که د جنت خواږه شراب دي
ساقي دا خو مې خانې له یم راغلے

شیش محل کنبې د سکون ډېره قحطي وه
کوچے څکه تري خېمې له یم راغلے

خدایزده چرته دې کاته په نظر راغلې
شوم مټین دریاندې زه په نظر راغلې
د زړګي تنده مې لاپه زیاتېدو شوه
ستا مرۍ کښې مې اوبه په نظر راغلې
چې د چا له ویرې پټ ژوند دې کولو
قسمت ګوره د هغه په نظر راغلې
تورې شپې مې چې رڼا شوله ترسترګو
د سپوږمۍ په شاتې ته په نظر راغلې
آوازه خوستا خوره د مغرورتیاده
خو دا ماته ولې بنه په نظر راغلې؟
د مرمیو ګردنۍ دې تر ملا تاؤ وه
چا پسې تلې په تیاره په نظر راغلې
د لیدلو نه دې نه لیدل بهتر وو
دا ما څه ګڼلې څه په نظر راغلې؟
ما خپمې د زپې تولې وکتلې
خو کوچیه ته له غره په نظر راغلې

په دار کولو ته مې بېړه کوي
نوم خورولو ته مې بېړه کوي
چا چې په ډبر منت راغونښتے ومه
په بېرته تللو ته مې بېړه کوي
سقراطه ما هم ستا په لاره بیایي
د زهرو څښلو ته مې بېړه کوي
وخته چې تاکرمه د سرو خزانه
هر څوک لوټلو ته مې بېړه کوي
لکه یوسف ورونو کوهي ته کش کړم
ورغورځولو ته مې بېړه کوي
دا کوم مقام ته رسېدلے یمه
زړه ستنېدلو ته مې بېړه کوي
د وضاحت موقع څوک نه راکوي
سر پرې کولو ته مې بېړه کوي
کوچیه! دا دے کوم صفت په ما کښې؟
یاران لیدلو ته مې بېړه کوي

زړګیه نه یې شته دے تاب په جام کښې
ته ځاپول غواړې دریاب په جام کښې

لامو زخمونه دي هغسې تازه
لازمونږ وینې څښې نواب په جام کښې

تا چې جوته په خپلو شوند و کړلې
قدرت اوبه کړلې شراب په جام کښې

ساقي له تانه ګیله څکه کوو
چې مونږ دې نه کړلو حساب په جام کښې

کوچیه! سرو شوند و نه ډډه کوه
هسې نه حال دې شي خراب په جام کښې

چې نه راواوښت او نه تېر شو هغه
دا خو په نیمه لار کښې ګېر شو هغه

شات او شکر چې وو د دوی لپاره
دا د ے خپل قام لره ګنډې پر شو هغه
اوس د سویانو بنکار نه ډډه کوي
اوس خو لېوان ماتوي شېر شو هغه
چې خوار مسکین وي نو زمونږ یار به وي
ذکر یې څه کوې چې سېر شو هغه
ما ویل زه به غم ته ماتې ورکړم
خو دا د ے ورځ تر بلې ډېر شو هغه

کوچیه و لکه روښانه ستورے
خو د عمل میدان کښې زېر شو هغه

راته په مخکښې تولـه شپه پاتې ده
زړګيـه لاخـو شـوګيره پـاتې ده
وختـه قـدغن راباندې مـه لګـوه
د بـدن وينـه مـې تـوده پـاتې ده
زمـا څهـره اوس پـه ورور بـده لګـي
لـه پـلار چـې مـونږ تـه خزانـه پـاتې ده
اوس د خپـل سـر نـه چاتـه نـه تيريږم
اوس مـې سـړه هغـه جذبـه پـاتې ده
دومـره پـه بهـره تبنـتبدلے يـې چـې
د کالـۀ بلـه دې ډيـوه پـاتې ده
چـې بـې لـه تـا شـمه نـوخـه بـه يمـه
زړه کښـې مـې دغـه اندښنـه پـاتې ده
مېنـدې بچـي ويـده کـوي سـتا پـه نـوم
لادې د ظلـم آوازه پـاتې دد
پـرون هغـه وه زه راغلـے نـه وم
کوچيـه نـن زه يـم هغـه پـاتې ده

امانت

دوغه زوړ قبر په خوا کښې ګوري
دغه اوړد قبر چې دے
زما د غور نيکه، نيکه ښځ شوے
وايي چې دا يو ډېر قوي سړے و
ولاړ به دلته و خو د پوري غره نه
به يې ډبره لاس کښې دلته راوړه
د پښو څپلی يې هم لس ګزه وې
خو دغې خړې خاورې وخوړلو
بابا او غور نيکه مې هم خاورې شول
خو اوس ما خان سره تکل کړے چې
زه د غاصب په خلاف وجنګېږم
د خپلې خاورې په تنګ
او چې شهيد شمه پرې
نو بيا به دغه خاوره
ما امانت وساتي

زما فکر

ما په زرګونو مکتبونه او لېسې جوړې کړې
ددې ولس دپاره
چې به بیا دغو مکتبو او لېسو
کال کښې زرګونه ډاکټران او پوهان
انجینران جوړول
چې به د هر انسان د درد دوا وو
هم مې ددې وزګار ولس دپاره
یو دولس زره کارخانې جوړې کړې
پکښې لکونو خلکو کار کولو
او معدنیات چې د ملک هر ګوټ کښې وو
په هغې سم لاسي مې کار شروع کړو
او د ټیټ پوړو حکومتي چارواکیو
میاشتنۍ معاش مې څلور چنده لوړ کړو
هېواد مې سیال کړو د سیالانو سره
خو یو ناڅاپه بادار غږ راوکړو
چې ورشه هغه خښتې دلته راوړه
"ته مزدوري کړې که سوچونه کوې"
نو دا زما بادشاهي رنګه شوله
دده دا هم په ما پېرزو نشي چې
زه په خپل فکر کښې بادشاه جوړ شمه

غوښتنه

خداېزده چې ولې ناخبره غوندې
زمونږ خپمې ته دې راپېښه وکړه
په خړ لېمسي راسره کېناستلې
او دا تپوس دې رانه هم وکړو چې:
"څنګه د ژوند ورځې شپې ښې تېرېږي"
یو سو لمحو ته شوې ایسار راسره
خو بیا روان شوې ویل دې کار لرمه
خو ستا راتګ کړم زه حېرانه په دې
چې تا و سترګو کښې یو سوال راوړے
او څه غوښتنه دې کوله ګرانه
خو چې زما کېږدی دې ولیدله
نو خپل محل درته درياد شو اشنا
څکه خو تا په خپلو نرمو شوندو
هغه غوښتنه له ما ونکړله
د څه لپاره چې راغلے وې ته!

شپېلی

تیاره چې کله دنیا غبرګ کښې واخلي
او خاموشي وزرې وغوړوي
نیمه شپه شي
دغه بې مینې خلک ټول ویده شي
ماته یادونه ستا راورسېږي
په تصور کښې مې ستا عکس راشي
راته خوږې خوږې خبرې وکړي
داسې خبرې چې مثال یې نشته
زه هم له خپل واسکټ نه
زړه شپېلی راواخلم
هغه شپېلی چې وه راکړې هم تا
ستا تصور کښې شپېلی وغږوم
د کوه قاف ښاپېرۍ سیل ته راشي
د چین ماچین شهزادګی وکړي نخا
خو زړه مې بیا هم په دې سود ونه کړي
هغه وختونه مې بیا بیا رایاد شي
چې د سپوږمۍ رنا ته
به مونږه دواړه ناست وو
ما به په مینه غږوله شپېلی
خوږه اشنا تا به سندره ویله

د رحمان د در ملنګ

هغه يې مخې چې د مخ ځنې يې نور څخېږي
هغه يې مخې چې د مخ په داېره کښې يې تول
ددې جهان دې ښاېستونه پراته
هغه يې مخې چې په سترګو کښې يې
د رنګ او نور دې نعمتونه پراته
هغه حسين چې يې د سپينې خولګې
شاتو شکرونه هم د هر خوند دے
هغه حسين چې د خبرو په ځاے
له ځلې نه رنګ رنګ مرغلرې نولې
او چې د مخ په رنايي باندې يې
دے کهر چاپېره دا وطن روښانه

تغزل

او چې د غابنو په برېښنا باندې يې
شي په دې پاس شينکي اسمان کښې رنا
چې يې د څنو په خوشبو ده دا فضا معطر
او چې د شونډو په سُرخی يې ګلابونه رنګ دي
هغه چې دومره دے حسين چې څه حساب يې نشت
هغه پے مخے زما در ته نن ناڅاپه راغلو
اوس ماته خلک وايي د برخې خاوند
او زه ملنګ يم د رحمان د درګاه
څکه خو ماته دا اعزاز حاصل شو
چې شهزاده راغلو زما سلام ته!

د زړه خبره

اے په اسمان کښې د وبهد ونکیه ستوریه!
ته چرته درومې لږ خبره واوره
تاته زما د مینې نښه پته ده
زه چې څوک غواړم هغه ته پېژنې
ته دا یو کار خو وکړه
ته که غورځېږې او ضرور غورځېږې
نو د لیلا په کور وروغورځېږه
او ورته دا خبره هم وکړه چې
هغه مَېن دې هغه خړ پړ کوچے
هغه له تا څنې چې د هر لرې دے
یوه ورځ تا پسې به
د ژوندنه له هسک اسمانه لوېږي
بې له تا ژوند ورته څه ژوند نه ښکاري.

پام

په شیش محل کښې ناست د واک څښتنه!
تاته ددې خبرې علم شته چې؟؟
دا ستا په ملک کښې اوسېدونکي خلک
له ډېر غُربته ځان وژنې کوي
او ځینې ځینې خو د یو بل وینې
ښې په سیالۍ تویوي
ښاپسته پېغلې دې دا ستا د وطن
خپل عزتونه پلوري
خو ته چې ولې دې ته پام نه کوې؟

په شیش محل کښې ناست د واک څښتنه!
تاته ددې خبرې علم شته چې
ددې هر څۀ تپوس به تانه کېږي
ته به قهار ته څه جواب ورکوې؟؟؟

دوزخ

اے هدیرې خبر مې اورې که نه؟؟
یوه خبره ده کوم یې درته
آبله ورځ و یو غریب مړ شوے
قبر وهلو ته یې هم نه تلل څوک
په جنازه کښې یې ټول لس کسان وو
د کلي لوی ملا هم نه وو پکښې
چې د غریب یې جنازه کړې وے
خو نن د کلي یو مالداره مړ دے
قبر وهلو باندې وار نشته دے
او جنازې ته هم عالم راغلے
د کلي لوی ملا کوي مصلې
چې د هر کسان پرې ګواهي ووایي
هغه سړے رب قادر وښلو

اے هدیرې خبر مې اورې که نه؟؟؟
آبله ورځ خو شل کسان هم نه وو
چې د غریب یې ګواهي کړې وے
دا دے مالدار سړے جنت ته لاړو
غریب سړے چې و دوزخ ته لاړو ؟؟؟

جواز

ما په تا ډېره شاعري کړې ده
او لا لګيا يم شاعري کومه
خو نن به تا باندې يو شعر ليکم
او دغه شعر به وي داسې شعر
چې د ادم نه تر دې دمه پورې
يوه کس هم داسې ليکلے نه وي
او نه يې چا لا تصور کړے وي
ټوله دنيا به ورته کړم حېرانه
خو صبر لږ ورباندې سوچ کومه
دا ستا د مخ کتاب په زړه کښې ګورم
صبر کړه ښه ورباندې سوچ کومه
لا دا ستا مخ رانښکاره شوے نه دے
لا زما شعر پوره شوے نه دے
زه به په تا يو داسې شعر ليکم
چې په دنيا کښې چا ليکلے نه وي
خو شرط مې دا دے اول تا به ګورم
جواز مې دا دے ستا ليدل ګران دي

سور ګلابي رنګ

یوه ورځ تا مانه تپوس کړے و
چې ستا خوشبو او که رنګ دهر خوښېږي
ما په جواب کښې وو ویلي درته
هسې خو زه د خوشبویی قایل یم
دهر په رنګونو پسې نه ګرځمه
خو کنه خامخا یو رنګ یاد کړمه
نو زما سور ګلابي رنګ خوښېږي
خو څه وخت پس چې ته په مخه راغلې
تا وه جوړه د سور بخمل اغوستې
زما له خُلې نه دا تپه ووته

په سور بخمل کښې داسې ښکاري
لکه د واورو چې لمبې تاؤ شوې وینه
نو تا هم زر دغه جواب راکړو چې
ودې لیدل چې تک مې درکړو
ته مې منین کړې زه قرارې کښاستمه
اوس هم دا ستا جواب یادېږي راته
ته په قراره زندګي تېروې
زما په سترګو کښې سور رنګ غږېږي

د حاجي حنيف اپريدی صيب په مالي مرسته چاپ شو، چې دغه بڼه يې اوس بريښنائي خپور شو.